**بسم الله الرحمن الرحیم**
**ستاسو دې په الله قسم وي؛ د حزب التحریر مخه مه نیسئ!**

حزب التحریر هر کال د رجب په میاشت کې، ترخه خاطره ژوندئ کوي، چې خلک ژړوي او زړونه د هغه په نشت کې په لړزه راځي، دا خاطره د بشري تاریخ تر ټولو لوی دولت (اسلامي دولت) دی!
هو! کلونه تېرېږي او یو پر بل پسې پر مسلمانانو غمونه راځي.
د امت پر کوم حالت غواړئ پوه شئ؟
د کډوالو د کمپونو او لوږې حال؟ یا هم د وبايي او غیر وبايي ناروغیو حال، چې ژوند یې راباندې تریخ کړی دی؟
**کوم حال؟**
هغه چې زموږ په بې سرپرسته، ښځو او خویندو تیری کېږي؟ یا هغه، چې هره ګړی پکې وژنې کېږي او خلک تېښتې ته اړباسي؟ د اسلامي امت پر کوم یوه درد غواړئ پوه شئ؟
د ګاونډیو حال، چې هېڅ خبر نه ترې لرو؟
یا دې پناه غوښتونکو، بې ځایه شویو او کډوالو حال، چې پر سړکونو ویده دي، یا په اوبو کې ډوبېږي او یا هم په هوايي ډګرونو کې د مرستې غږ پورته کوي؟
**کوم حال؟**
د اسلامي امت د ځوانانو حال؟ هو! تاسو فکر کوئ، چې هغوی ښه حالت لري!؟ ځیني د ظالم حکامو په زندانونو کې دي او ځیني د یوې مړی ډوډۍ لپاره سرګردانه هر خوا ګرځي.
د مسلمانو خویندو حال درته ووایم: هغوی صبر غوره کړی، ځکه بله لاره نه لري...
ځیني د خپلو مسافرو په انتظار کې دي، چې یوازې د ژوندي پاتې کېدو لپاره ډوډۍ ورته راوړي، ځیني د خپلو ناروغو خاوندانو او بچیانو د ښه کېدو لپاره شپې او ورځې سبا کوي او په خالي لاس غواړي هغوی تداوي کړي، ځیني د خپلو بچیانو د ژغورلو لپاره چیغې وهي، خو له صبر پرته بله لاره نه لري.
زموږ کوچنیان؛ چې په سالمه تربیه کې یې د تېر په څېر لږ خواږه، ښې خبرې او کیسې اثر نه لري...
هغوی ته اوس کورني ارزښتونه، رسم او رواج ارزښت نه دی. فاني نړۍ له هرې خوا غږ ورته پرانیستي ده؛ انټرنېټ د ژوند مسیر ورته ټاکلی، چې نه یې د دنیا په درد خوري او نه یې اخروي ستونزه حل کوي.
زموږ کوچنیان، نصحیت نه اوري او د ژوند تر پایه یې د مور او پلار پر سینه د اطاعت ارمان پاتې وي.
خپل معصوم کوچنیان لویه وو او وروسته یې د ګناه، خیانت او ظلم نړۍ ته سپارو. هغه نړۍ که وغواړو یا ونه غواړو باید ورته تسلیم شي.
هو! هغوی جسمي او فکري بلوغ ته رسېږي، غربي ارزښتونو ته مخه کړي او بشري مادي نظامونو غوره کوي. پر دغه حالت غم او حسرت کوو، ځکه زموږ نصیحتونه ارزښت نه ورته لري.
له ټولو ځورونکی حالت بیا دا دی؛ چې ته په سطحي فکر له ما پوښتې، چې تاسو پر خپلو اندک

منشوراتو او هشتکونو، چې هېڅ درد نه دوا کوي، غواړی څه وکړئ.
هو! دغه هشتکونه او منشورات، ستا هېڅ درد نه دوا کوي، ځکه تا خپل فکر او طريقه پر يوه محور محدوده کړې او له هغې وړاندې نور څه نه وينې.
**خو هيله کوم موږ پر خپل حال پرېږدئ!**
موږ د امت لپاره کار کوو. په ياد ولره، چې زه او ته دواړه د اسلام دين د نصرت لپاره مکلفيت لرو. پر دې مکلف يو، چې قران کريم، پر خپل ځان حاکم کړو او داسې فضا رامنځته کړو، که مو خطا وکړه، قران مو بايد محاسبه کړي او که مو شکايت وکړ بيا هم قران پناه راکړي.
ستا دې پر الله قسم وي! موږ خپل حال ته پرېږده او زموږ پر وړاندې مه دربېږه! موږ ښه پوهېږو، چې څه کوو او پر دې هم پوهېږو، چې زموږ کار په دغه ظالمه نړۍ کې څومره خطرونه لري. که ته نه غواړې، چې له موږ سره کار وکړې، مه مو پرېښانه کوه، ميندې مو مه ډاروه او کوچنيان مو په وحشت کې مه اچوه!
د نړۍ په ګوډ-ګوډ کې کوم ظلمونه چې پر مسلمانانو کېږي، که هغو ته نه وې وېښ کړی او د بدولون لپاره يې احساس نه وي درکړی، لا اقل په فلسفي سترګه د نورو کړنو او زحمتونو ته مه ګوره.!
غوره ده چې د حزب التحرير؛ فعاليتونو، کمپاينونو، کتابونو او کوم نظم، چې حزب لري د انصاف په سترګه ورته وګورئ. که تاسو د حزب تاريخ ته دقيق او بې پرې وګورئ، له شک پرته هره منفي تبصره او ليکنه مو چې کړې، له هغه څخه به وشرمېږئ. حزب د دې لپاره، چې امت له ناوړه وضعيت وژغورل شي، يوه ګړۍ يې هم غفلت نه دی کړی.
هر کال زموږ پر اوږو د ملامتۍ بار ږدئ او پوښتنه کوئ، چې تاسو څه کړي؟ ايا له دغو بې ځايه خبرو نه ستړي کېږئ؟
ګرانه ملګريه، چې دغه ملامتونکې پوښتنې موږ ته متوجه کوې!
پوه شه چې حزب التحرير له امت څخه، نارينه، ښځې او ځوانان د قران او سنتو پر اساس تربيه کړي دي، چې د امت لوی شخصيتونه دي؛ هغه شخصيتونه، چې د الهي نظم او قانون د حاکميت لپاره، له هېڅ ملامت کوونکې وېره نه لري.

پوه شه! چې حزب التحرير په خپلو منشوراتو ميليونونه مسلمانان راټول کړي، د واحد مفهوم او واحد رفتار په وسيله يې وحدت ورکړی دی. هر وګړي، په حزب کې خپل هدف پېژندلی او پوهېږي، کومه لاره يې چې غوره کړې، پايله يې څه ده.
پوه شه! چې حزب التحرير د امت د ډېرې ځوانانو سترګې او غوږونه د ګنو ژبو او رنګونو سره سره خلاص کړي دي او پوه کړې يې دي، چې په ټوله نړۍ کې د الهي دين د نصرت لپاره کار يوه فريضه ده. له امريکا تر چينه، هېڅ دولت، ژبه، حاکم او رييس نشي کولی د حزب مخه ونيسي. حزبي ځوانان د الله سبحانه و تعالی په غوښتنه او ملاتړ سره خپلې لارې ته دوام ورکوي او ان شاءالله کامياب به شي.
الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ(7) وَالَّذِينَ كَفَرُوا فَتَعْسًا لَّهُمْ وَأَضَلَّ أَعْمَالَهُمْ(8) ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَرِهُوا مَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُمْ﴾ [محمد: 7-9]**

***ژباړه:*** *اې مومنانو! که تاسو د الله له دین سره مرسته وکړئ، هغه به ستاسو سره مرسته وکړي او ګامونه به مو کلک کړي. پاتې شول هغه کسان، چې کافر شوي دي، د هغوی لپاره تباهي ده او الله یې عملونه ضایع کړې دي؛ له دې امله چې هغوی قران بد وګاڼه، چې الله نازل کړی دی، له همدې امله الله د هغوی عملونه بابیزه کړل.*

**أقيموا الخلافة#**

**Return The Khilafah#**

**YenidenHilafat#**

**خلافت – کو – قائم – کرو**


**لیکونکی: دارين الشنطي**

**ژباړن: الهام پردېس**